AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهنمل دکتوراندوس رحمت څواکمن ۲۰۲۲/۰۱/۰۶

# آیا زده کړي عمر اوږدولای شي؟

ددې لیکنې انګېزه دوه موضوعات دي. لومړی موضوع په هالنډ کې د یوې څېړنې پایلې دي، چې د لوړو زده کړو او ټیټو زده کړو لرونکو کسانو، د ژوندانه د دولونو څنې توپیرونه په کې څرګند شوي دي.
دوهمه موضوع ، په افغانستان کې د نجونو د زده کړو پر ټکنې حالت، په آزادی راډیو کې یو بحث دی، چې څو ورځې دمخه خپور شو.
تېره شپه د هالنډ په یوه تلویزیوني کانال کې یوه په زړه پورې خپرونه وړاندې شوه. نوموړې خپرونه د لوړو زده کړو او ټیټو زده کړو لرونکو کسانو د ژوندانه د دول پر عمومي توپیرونو را څرخیدله، په ځانګړې توګه په اقتصادي، ټولنیزو او روغتیایي توپیرونو.
د یوې څېړنې عمومي پایلو دا په ډاګه کړې وه، چې د لوړو زده کړو لرونکي کسان، د ټیټو زده کړو لرونکو کسانو په پرتله، څه ناڅه پنځلس کاله اوږد عمر لري.
په همدې تړاو د څو تنو نظرونه چې اقتصادي، ټولنیزه او روغتیایي سطحه یې کمزورې وه هم واورېدل شول.
داکسان زیاتره چاغ، د سګرټو په عادت روږدي، او له ټولنیز، اقتصادي او روغتیایي حالت ناراضه وو.
ځنو یې ویل چې د ټولنیز ناوړه حالت له امله یې لوړې زده کړې نه دې ترسره کړې، له همدې امله ښه مسلکونه او دندې هم نلري. د اقتصادي حالت کمزورتیا یې ددې لامل شوي چې ښه او کیفیت لرونکي خواړه هم نه شي تر لاسه کولای او په مغازو کې د خوړو د کیفیت او څرنګوالي پسې زیات نه ګرځي.
د خوړو په کڅوړو اوډبو د لیکل شویو معلوماتو لوستلو ته هم دومره پام نه کوي، چې له کیفیت، ګټورتیا او زیانونو یې خبر شي.
همدارنګه منظم سپورت ته هم د اقتصادي او ټولنیزې کمزورتیا له امله وخت نه ورکوي.
لنډه دا، ټولې خبرې په دې څرخېدلې چې، غوره، لوړې زده کړې او د ګټورو معلوماتو او پوهې ترلاسه کول نه یوازې داچې د وګړو اقتصادي او ټولنیزه سطحه جګوي، روغتیا ته یې هم ګټه رسوي.
په حقیقت کې موږ پخپله هم د لوستو او پوهو ټولنو پرمختیاوې او سوکالې کتلای شو. په بیلابیلو هیوادونو کې د انسانانو د عمرونو منځنی حد هم د همدغو اقتصادي، ټولنیزو، روغتیای او نورو عواملو له امله سره توپیر لري.
په پرمختللو هیوادونو کې د عمر منځنی حد له اویاوو کلونو پورته دی، په داسې حال کې چې په پرمختیایي هیوادونو لکه افغانستان او نورو کې د عمر منځنی حد شاوخوا پنځوسو کلونو ته رسیږي.
په دغو توپیرونو کې د استوګنې چاپېریال، شرایط او امکانات، اقتصادي او ټولنیز حالت، روغتیایی خدمات او د ژوند نورې اسانتیاوې اغیزه لري .
کومې ټولنې چې د پوهې او زده کړو لوړې سطحې ته رسیدلې دي، په هماغه اندازه یې خپلې اقتصادي، ټولنیزې او کلتوري پرمختیا او غوړیدا ته هم ځانونه رسولي دي. له خپلو زیرمو او سرچینو یې سمه استفاده کړې، داستوګنځی، خوراک، او پوښاک ستونزه نه لري. روغتیایي او د ژوند نورې ټولنیزې اسانتیاوې ورته برابرې شوې دي.
اوس به راشو ددې لیکنې د انګېزې دوهمې موضوع ته:
څو ورځې دمخه د ازادی راډیو خبریالي ملالۍ بشیر، په هیواد کې د نجونو د زده کړو پر حالت له طالب ویاند محمد نعیم او یوې بلې میرمنې سره خبرې لرلې.
که څه هم زموږ په هیواد کې زده کړې هیڅکله هم متوازنې او په کیفي لحاظ پر معیار برابرې نه وې. خو اوس یې پر کیفیت ، څرنګوالي او مسلکي ستونزو خبرې نه کوم، ما په دې هکله په تیر کې نورې لیکنې کړې دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

دلته غواړم یوازی د طالب ویاند محمد نعیم یوه نظر ته پام راواړوم ، چې د خبریالی د پوښتنې په ځواب کې یې بیان کړی دی.
ملالی بشیر په هیواد کې له شپږم ټولګي پورته د نجونو د زده کړو پر تړنې حالت د طالب ویاند نظر وپوښت، هغه یې په ځواب کې څرګنده کړه چې، موږ د اسلامي ارزښتونو په رڼا کې، د نجونو د زده کړو مخالف نه یو، د شرایطو په سمون او د زمینې په برابریدو سره به دا کار ورو ورو پیل شي. نوموړي همدارنګه وویل چې، دا اوس هم په ځنو شمالي ولایتونو لکه بلخ ، لویدیځو لکه هرات او ځنو مرکزی ولایتونو کې نجونې ښوونځیو ته تللی او ځي.
خبریالی او په بحث کې بلی ګډونوالی هڅه وکړه چې د طالب ویاند پام په نورو سیمو کې زده کړو ته هم راوکرځوي او ویې پوښته چې، که چیری کوم بندیز نه وي نو بیا خو غوره ده چې په جنوبی ولایتونو، لوی کندهار او نورو سیمو کې هم د نجونو پر مخ ښوونځي پرانستل شي، ځکه په زده کړو کې به دوه ګونی چلند ښه نه وي. دزدکړو د حقوقو فعالی میرمنی وویل چې اوس په ګرم سیرو سیمو کې د ښوونځیو د رخصتیو وخت هم نه دی، نو باید د نجونو پرمخ ښوونځي پرانستل شي.
ویاند دا خبره له کلتوري توپیرونو سره وتړله، همدارنګه ویې ویل چې موږ په زوره د خلکو ماشومان ښوونځیو ته نشو لیږلی او باید کلتوري توپیرونه او ارزښتونه په پام کې ونیسو. زیاته یې کړه چې په نورو سیمو کې به هم نجونی ښونځیو ته ولاړې شي، خو چې کله شرایط او مقررات تنظیم شي، او زمینه برابره شي.
که څه هم خبریالی او د بحث بلی ګډونوالی دا پوښتنه مطرح نه کړه چې، خیر که داسی وي، نو په کابل کې کومه کلتوری ستونزه ده، دا خو د هیواد مرکز او پلازمینه ده، همداسی نوری ډیری سیمي د هیواد په بیلابیلو برخو کې شته چې اوس په کې نجوني ښوونځیو ته نه شي تلای .
د طالب ویاند ځني نور دلایل لکه د نجونو د لا امنیت او مصؤنیت لپاره په نویو لارو چارو ، لوایحو او مقررو غور کول، اقتصادي ستونزي او داسی نور به، تر یو وخته د منلو وي ، خو د کلتوري توپیرونو دلیل راوړل، ماته سمه نه بریښي. د یوی واکمني اداري یا اسلامي امارت د یوه ویاند، دا ډول نظر په زده کړو کې دوه ګوني چلند ته لاره هواره وي.
د چاراوکو او د بهرنیو مرستندویو موسساتو پام به بیا هم د تیر په څیر هغو سیمو ته ورګرځي چې، مېندی او پلرونه یې زده کړو ته لیواله دي او د نجونو ښونځي په کې پرانیستي دي.
د ځنو سیمو د وګړو عمومي کلتوري ارزښتونه د نجونو د زده کړو خنډ بلل او په هکله یې عمومي تصویر وړاندی کول، په کور دننه او بهر ناسم ذهنیت ته لاره هواره وي.
که چیرې زده کړو ته سالم چاپیریال رامنځ ته شي او حکومت له شپږم ټولګي پورته نجونو ته ښوونځي پرانیزي بیا به وکتل شي چې څوک ښوونځي ته ورځي او څوک نه ورځي.
که د کلتوري توپیرونو خبره شي، نو په هره وړه سیمه کې هم داتوپیرونه ترسرګو کیږي .
که داسی وګڼو چې کلتوري توپیرونه به هم په زده کړو کې بی اغیزی نه وي، نو بیا هم دولتونه مکلف دي، چې خپلو وګړو ته پوهاوی ورکړي او د سرتاسري پراختیا او پرمختیا لپاره اغیزمن ګامونه واخلي.
کلتوري توپیرونه په ټولو ټولنو کې شته، کلتوري رنګارنګ ارزښتونه پر خپل ځای وي ، خو دولتونه د واکمنی د چلولو لپاره معیارونه او نورمونه ټاکي.
زده کړي یو اصل دی، یو نورم دی او د حکومتونو دنده ده چې د هیواد هر بچي ته د زده کړو زمینه برابره کړي.
زما په فکر په ځنو سیمو کې ښوونځیو ته د لږو ماشومانو ورتګ، په دی وروستیو کلونو کې د کلتوري توپیرونو له امله نه، اما د جګړې، بیوزلی او ناسم ښوونیز چاپیریال له امله و.
ځني سیمي په تیرو شلو، آن څلویښتو کلونو کې د درنو جګړو کربښې او ډګرونه وو، هلته نه یوازی ښوونځي جوړ نه شول، ان وګړي یې د ژوند له ډیرو نورو اسانتیاوو هم بی برخې وو ، معلولیت، معیوبیت، بیوزلی، ناروغی او رواني ستونزو په نوموړو سیمو کې ژوند له سخت کړاو سره مخ کړی دی.
د جګړې په سیمو کې ټولنیزی او اقتصادي پرمختیایی پروژې هم نه دي عملی شوي او ورته تخصیص شوی مالي بودجه هم هیځکله د نا امنۍ له امله نه ده ورکړل شوي.
په تیر رژیم کې په ځنو سیمو کې د نا امنی، ان کله کله د نا امنی په بهانه هلته د ټولنیزو او اقتصادي پرمختیا یې پروژو مخه نیول شوی وه.
اوس چې نوی حکومت د سراسري امنیت د ټینګښت او وګړو ته د اسلامي شرعیت په رڼا کې، د عادلانه خدماتو د وړاندی کولو دعوه لري، نو هغو سیمو ته، چې د سختو جګړو له امله زیانمنی شوي او د جګړې لومړی کرښې وی، باید زیاته پاملرنه وکړي.
دا د اوسنی واکمنی او ټولو نړیوالو مرستندویو ټولنو دنده ده، چې نوموړو سیمو ته د بیا رغاوني لومړیتوب ورکړي.
هغو سیمو ته ډیره پاملرنه وکړی، په کومو کې چې تیرو کلونو کې د جګړو له امله لږ ټولنیز او اقتصادي کارونه ترسره شوی دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

باید ورته زیات کار وکړي او زیانونه یې جبران کړي.
دا ښکاره ده چې هلته ښوونیز چاپېریال برابر نه وه او د څنو نورو سیمو په پرتله به هلته ښوونځي هم لږ جوړ شوي او رامنځ ته شوی وي.
د زده کړو مسؤل چارواکي باید د حالاتو له عادي کېدو او د سراسري زده کړو له پیل سره هم مهاله، تیرى نیمګړتیاوی هم، چې په څنو سیمو کې د جګړی له امله رامنځ ته شوی وی حل کړي. نا انډوله او نا عادلانه حالت باید په سمو لارو چارو له منځه ولاړ شي.
ټولو ته په یاد دي چې، په کانکور کې د ټول لوی کندهار د ګډونکوونکو شمیر، د څنو ولایتونو له یوی ولسوالی هم کم و. باید په سمو تعلیمي او تحصیلي کړنلارو تیری نیمګړتیاوي هم له منځه ولاړی شي او متوازني پراختیا او پرمختیا ته لاره هواره شي.
کیدای شي دا په تیرو څلوېښتو کلونو کې لومړی ځل وي چې څنې سیمي لومړی ځل سوله او امن تجربه کوي، له ټوپک او جګړې ژغورل شوي، نو اړینه ده چې نور هلته د ټوپک پر ځای قلم او د مرچل پرځای ښوونځي ته زمینه برابره شي.
یوه بله یادونه هم ضرور بولم، کلتوری توپیرونه باید زیات نه شي، کلتور مادی او معنوي اړخونه لري. که چیری څني سیمي له ودانیو، خدماتو، ټولنیزو او کلتوري پر مختیاوو شاته پاته شي، دولتونه ورسره دوه ګونی چلند وکړي، نو همدا توپیرونه د ژوندانه د ډول، نظریاتو، علایقو او غوښتنو د لا توپیر او بیلتون سبب هم ګرځي. آن د هیوادونو او سیمو د بیلوالي او ویشلو لامل کیږي. له همدی امله غښتلي هیوادونه او یو موټي ملتونه وروسته پاتي او کمزوری سیمي په نښه کوي او ورسره زیاته مرسته کوي، همدارنګه د کلتوري، اقتصادي او ټولنیزو توپیرونو د را کمولو، ملت جوړوني، کلتوري کډون او پیوستون لپاره ډول ډول کړنی هم ترسره کوي، لکه د تګ او راتګ د زمینې برابرول، د ښاري ژوند پراختیا، د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري پرمختیایي پلانونو جوړول، عادلانه عملي کول او د وګړو له یو بل سره اشنا کول.
له نیکه مرغه زموږ د تاریخي ملت وګړي، ګډ ملي او دیني ارزښتونه لري، له پیړیو سره ګډ اوسیدلي، آن بیلابیل قومونه یو له بل سره د ویني شراکت او خپلولی لري، یو له بل سره ویشل کیدلای نه شي، خو د اړیکو د لاټینګښت او نیږدي کیدو لپاره یې باید تل دولتي کړنلارى هم شتون ولري او په دی هکله ډیر کار وشي.
غواړم ښاغلی محمد نعیم ته ورياده کړم، چې زموږ د هیواد ټول وګړي له زده کړو سره مینه لري. په ختیزو ولایاتو کې له پخوا د څنو سیمو په پرتله لوستي او روزل شوي کسان زیات وو، آن د شهید سردارداوودخان د واکمنۍ پر مهال له ختیزو ولایاتو شمالي ولایتونو لکه جوزجان او نورو ته ښوونکي په جبري توګه د دوه کلن خدمت لپاره استول کیدل، څکه هلته ښوونکي لږ و.
په وروستیو کلونو کې په لویه پکتیا کې لکه د هیواد د نورو برخو په څیر په ښوونځیو کې د نجونو شمیر زیات شوی دی، او کورنی غواړي چې پر خپلو بچیانو هلکانو او نجونو لوړی زده کړی وکړي، همداسې په نورو جنوبي سیمو لکه کندهار او نورو کې زده کړو ته لیوالتیا زیاته ده، په دی شرط که دولتونه زده کړو ته مناسب او با امنه چاپیریال رامنځ ته کړي او ښوونیز خدمات ورته ورسوي.
اوس چې په هیواد کې سراسري امنیت دی، په څنو ولایتونو کې د سیمه ییزو چارواکو، زده کوونکو او ښوونکو دا کړنی د ستاینی دي ، چې ښوونځي یې د نجونو پر مخ پرانستی دي، هیله ده چې د نورو سیمو زده کوونکي، ښوونکي او سیمه ییز چارواکي هم په ګډه په دی هکله د حل یوه لار و مومي او په مرکز کې له چارواکو سره په ګډه د سرتاسري زده کړو لپاره زمینه برابره کړي.
نه یوازی غوښتنی مطرح کړي، نیوکي وکړي، اما د حل لاري یې هم په ګوته کړي او ټول په ګډه هر څومره ژر چې ممکنه وي زده کړو ته زمینه برابره کړي.
په پای کې یادونه کوم، چې پوهیږم د هیواد اقتصادي حالت کمزوری دی، ډیری سیمی جګړی ځپلی کړي او ډیری لګښتونه په جګړو کیدل. اوس بهرنی مرستي د پخوا په څېر هم نشته، دا مرستی لنډ مهالی وی او د مرسته کوونکو هیوادونو له خپلو اهدافو سره مل وي. خو هیله ده چې د وخت په تیریدو سره زموږ د هیواد اقتصادي ماشین بیا چالان شي او له خپلو عایداتي سرچینو اغیزمنه ګټه واخستل شي.
باور لرم چې که جګړه نه وي، دولت له فساده پاک وي، ټولنیز عدالت ته ژمن وي، زموږ اقتصادي او ټولنیزي ستونزي ژر هواریدلای شي او ولس مو په خپلو ملي شتمنیو، ښیرازی او پرمختیا ته رسیدلای شي.
له دی امله چې پوهه او زده کړه اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا رامنځ ته کوي، روغتیایي حالت ښه کوي، انسان د نیکمرغی خواته بیایي، د اسلام مبارک دین هم د نر او ښځي پر زدکړو ټینګار کړی، نو څکه د هیواد ټولو وګړو ته د زدکړو د زمیني د برابرولو هیله لرم.

پوهنمل دکتوراندوس رحمت څواکمن
هالنډ/ 04/01/2022


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ